داداري اومديريت بنسټونه



Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

مدیر څوک دی ؟

- مدیر په لغت کې داداري چلونکي ته وای ا وپه اصطلاح کې مدیر هغه څوک دی چې د خپل د ټیم کړونو او عملکردونو ونډه په غاړه لری ۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

په بل قول!

- "مدیریت" د یوی فرانسوی قد می کلمی *ménagement* په معنی ده چې دلار ښوونی او څارنی لار اچونی، نه اخیستل شوی ده چې بیا دا کلمه دی دو لاتینو کلمو manu agere یعنی د لاس په مرسته لارښوونه ښول شوی ده چې په اوسیني مفهموم دیوی اداری لارښونه ، مشری او هدایت کول دی ٠ دکاری څواک او د بیلا بیلو سر چینو له لیاری (انسانی، مالی ، محسوسي او غیر محسوس) سر چینی اوسیږی ٠

(c) ketabton.com: The Digital Library

مدیریت یا منجمنت څه دی ؟

منجمنت له دو کلمو Manage په معنی د تنظیم کولو ا و Men په معنا د غړو اخیستل شوی دی چې په کلي مفهوم سره تنظیمول ا و اداره کول د غړو په ماهرانه بڼۀ اوسیږی

دمدیریت یو ستر کار پوه په شلمه پیړۍ کې د ماری پارکر فولیت په نامه مدیریت یی په مفهوم دی " دنورو په مرسته دکارونو سر ته رسونه په ماهرانه توګه " تعریف کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیستم څه ده ؟

- سیستم دیوی ټولنی څخه عبارت ده چې دی څو ترلو او سره تشکیل شویو برخو څخه چې یو ځای سره کار کوی هغه ډول چې که تاوان په یوه برخه کې پیدا شی ټول سیستم زیان مند کیږی .

- اما د اداري او منجمنت له نظره : دیوي اداری د داخلي څانګو ، ارګانونو نه عبارت ده چې دی ټاکل شویو یو ځای موخو رسیدلو ته د یو لړټاکل شویومقرارتو نه پیروی کوی او یو ځای سره کار کوی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سيستم ډولونه

پرانيستي

له بهرني چاپيريال سره اړيکې لري

تړلي

له بهرني چاپيريال سره اړيکې نلرى

اوس دي تړلي سيستم اوسيدنه په نظر نه راځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



داداري موډل د يوه پرانسيتی سيستم په تو گه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستراتيژى څه ده ؟

- ستراتيژى له يوى بشپړه پوره واحدى برنامي څخه عبارت ده چي د هغى پر بنسټ داداري د موخو رسيدلو لارى ا ټكل كيږى .
- په بل عبا رټ ستراتيژى د پاليسيو بشپړه پلان او دادارى پوره موخو رسيدنو ته فعاليت بلل كيږى .

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلان څه ده ؟

- پلان مخکینی طرحه ده او په سیستماتیکه او منظمه توګه موخوته رسیدنه په
- بیلا بیلو زمانی پړاونو کې یعنی
  - لنډ مهاله
  - منځ مهاله
  - او اوږد مهاله

(c) ketabton.com: The Digital Library

تشکیل څه ده ؟

- ددندو ویشل، د واک د ور کړی ددندو ټاکنه او په یوی اداري کې د واحدونو منطقي اړیکو ټاکني څخه عبارت ده .
- ددندو ویشنه
- د واکونو او دندو ټا کنه او پیژندنه
- د واحدونو منطقي اړیکي

(c) ketabton.com: The Digital Library

اداره څه ده ؟

- اداره د ټولنيز نظام اوخاصو لارو له طرحی څخه عبارت ده چې په هغه کې يو شمير زياد خلک د يو لړ ټاکلو او پيچلو دقيقو دندو د سرته رسونو په خاطر بسيا وی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

او یا په بل عبارت !

- اداره دي يو بل تر ځنګه د خلکو د يو ځای کولو پراو څخه عبا رت ده چي دي کارونو د آسنتيا او کارونو کي تاکلو موخو ته رسيدنه ده چي په هغه کي له بيلاً بيلو سر چينو نه په ګټوره او اغيزمنه توګه کار اخيستل کيږئ · او په پايله کي د ذ يدخلو اړخونوقناعت او رضايت لاس ته راشي ·

(c) ketabton.com: The Digital Library

داداري او منجمنت مهم عنا صر :

- موخى (اهداف)
- سرچينى
- اغيزناكي (مو ثر يت) Effectiveness
- گتهور توب (مثمريت) Efficiency
- گډ ا ړ خونه (جوانب ذيدخل (Stakeholders))

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مدیریت له نظره د موخو تعریف :

- موخې د مطلوبو پایلو سر ته رسونه ده چې ټول فعالیتونه هغې خواته بلل کیږي او سوق کیږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د موخو ځا نګړ تیاوی :
موخی باید ددغو ځانګړتیاو درلودنکې وی :

- روښانه او ټاکلي وی .
- د اټکل او سنجش وړ وی .
- د لاسته راوړنی وړ وی .
- حقیقت او رښتیا ته وړاندي وي
- دوخت دمحد ود ید درلودنکي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرچينې (منابع) :

سرچينې د يوي اداري مادي او معنوي پانګونه عبارت ده چې په لاندې ډول ويشل کړې :

- فزيکي سر چينې
- مالي سر چينې
- انساني سر چينې
- غيرمحسوس سر چينې

(c) ketabton.com: The Digital Library

موثریت په اداره کې څه ده ؟

- دی فعالیتونو له سر ته رسونو څخه عبارت ده چې د اداري د موخو لاسته راوړنو لپاره موږ سره مر سته کوی
- گټهور توب په اداره کې څه ده ؟
- د فعالیتونو له سر ته رسونو نه عبارت ده چې د هغی په کار اخیستنی سره له کمی پانگې نه ډیره پایله او محصول پر پانگې ډیر وی یعنی محصول لاس ته راځی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اداري ا و منجمنت کې ښکیل اړخونه :

- عبارت له هغو وګړو څخه دي چې د اداري یا هغی په فعالیتونو کې برخه ، یا په زړه پوری والۍ ولری یا دا چې داداری فعالیتونه د هغوی په ګټه او تاوان اغیزه ولری .
- د چارو ګډونکونکي لاندني خلک دی :
  - برخه اخیستونکي
  - کار کوونکي یا مامورین
  - مشتریان/تمویل کونکي
  - وړاندی کونکي (عرضه)
  - د سیمی خلک

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ښوی روغی او سالمی اداری ځا نګړتیاوی :

- په ښوی اداري کې له ټولو اداري قوانینو ، مقرارتو او اصولو نه پیروی په کار ده
- تشکیل باید د اداري د اصل او اړتیا و سره برابروی او داداری اصل له موخو او دندو سره ښوالې ولری دی تشکیل له پړ سوب او تورم نه مخنیوی وشی .
- اداره باید له تقلب کاری ، کاغذ پرانې ، بډه اخیستني نه پاکه وی .
- دکار وړ خلکوته د کار سپا رښتنه .
- په اداره کې ښوالې ، د کنټرول او مشرۍ ښه سیستم او د مدیریت له اصولو څخه پیروی منځ ته راشی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د اداری بنسټیزه اصول :
- د موخو یوالي او د برابرۍ اصل
- د مراتبو د لړۍ اصل
- د تخصص اصل
- د دستور ورکولو او وحدت اصل
- د چاپیر یال څارنې اصل
- د واک او ونډې اخیستنې اصل
- د برابرۍ(تعاد ل) اصل
- دبدلون منلو او مدا و مت اصل
- د کار د منځ ته راتلو (کار آیي)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مدیریت کاری چوکاټ

یو مدیر

ځانګړی اومعلومی دندی	سر ته رسوی	سازمان ورکوني ، پلانګذاری ، ګمارل ، مشری ا و کنترول
تا کلو سر چینو	نه ګټه اخلي	انسانی ، فزیکی ا و مالی
تا کلي روش او تکنیک	په کار وړی	ستندرد ونه، ارزیابی، کنترول او نور
تاکلي مفاهیم	پیژني	افهام او تفهیم ، مشری ، تشویق ا و خوزښت ، دشخړو اوارول
تاکلي مفاهیم	څاري او تعقیب وی	یوازی ، ډلیز ، یو ځای
وده او پراختیا ته	زمینه جوړوی	ډلیزه مرسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

دبیلا بیلو کچو مدیرانو دندی

د لوړی کچی مدیران :

- اوږد مهاله پلانونه او ستراتیژۍ خیړی او پراختیا ورکوی ۰
- د بیلا بیلو څانګو کار ی پړاو او دندي ارزیابی کوي او له هغو سره مرسته کوي
- د کلیدی غړو او کار کوونکو د ټا کني حق په اداره کې لري ددغو ډلو په ګمارولو کې مسلم حق لري.
- منځنیزو مدیرانو ته دهغو د ستونزو په اړوند لارښوني کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دبیلا بیلو کچو مدیرانو دندی

د منځنۍ کچې مدیران :

- د متو سطې کچې پلانونه جوړوی او اوږد مهاله پلانونه د څیړنې او کنټرول لپاره لوړې کچې مدیریانو ته وړاندي کوي او تر تیب ورکوي
- بیلا بیلو څانګو ته پالیسۍ جوړوی .
- ور ځنی او اونیزه راپوټونه کنټرول او ارزیابی کوی .
- ټیټو کچو مدیریانو ته دهغو د ستونزو په اړوند لارښونی کوي او مشوري ورکوي .
- دکار کوونکو ګمارل او تا کلو دنده په غاړه لری ٠

(c) ketabton.com: The Digital Library

دبیلا بیلو کچو مدیرانو دندی

تیتی کچې مدیران :

- لنډ مهاله کاری پلانونه جوړوی منځنۍ کچی مدیریانو ته یی وړاندي کوي او دهغه د جزئیاتو په اړوند اضافه معلومات ورکوي
- د لاس لاندو کار کونکو کړنلاری ، کړنی ، او طرز العملونه څاری او څیړی .
- ورځني کارونه عمل کړنی جوړوی .
- ددندو لایحه په ټا کلی توګه جوړوي او تر تیب ورکوی .
- له کار کونکوسره همیشنۍ او وړاندی اړیکې لری او تما س وسر ه لری

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

مدیریتی مهارتونو موډل



(c) ketabton.com: The Digital Library

تخنیکی مهارتونه



انسانی مهارتونه

ادراکی مها رتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مدیر ونډی او مسولیتونه

- د خپل ځان په اړوند مسولیت

- د خپل لاس لاندی کار کوونکو په اړوند مسولیت او ونډه
- د خپلی اداري په اړوندو مسولیت

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوهم فصل

مفاهمه يا اړيكي

(c) ketabton.com: The Digital Library

مفاهمه/اړيکي څه دي ؟

هغه عمل او کړنه ده چي يو غړی دخپل اړتياو، غوښتنوٌ، ادراکاتو ،نظرياتو په هکله بل غړي ته معلومات ورکوي اويا هم د بل غړي په هکله معلومات لاس ته راوړي، مفاهمه/اړيکی ّبلل کيږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مفاهمی / او اړیکو ماهیت

داړیکو ماهیت په دی کې دی "چې څوک نشی کولای بې اړیکو اوسې " یعني د یوی اداری او موسسې کار کونکې په دایمي توگه یو ډول نه یوډول یو له بله سره اړیکې نیسی حتی که دوی داسې ښکاره شې.چې گواکې اړیکې سره نلری ، بیا هم سره اړ یکې لری . چېتیا هم د یوه شی معنې ورکوې داچې تاسو ویلو ته څه شې نه لری او یا هم نه غواړی څه ووایې خو بیا هم اړیکې سره لری ، یعني اړیکې هر ځای شته .

ورته قضیه د باندنی نړی سره د اړیکو په هکله صدق کوی .

دا چې یوه اداره یا مو سسه یو شی واي یا یې لیکې ، او دا چې آیا سوداگری اعلان ښه دی یا نه یا دا چې عامه مناسبات او د بازار موندلو مناسبات ښه دی یا خراب بیا هم اړیکې منځته راځی که یوه اداره یا موسسه څه نه وایې یا څه نه لیکې بیا هم په غیر مستیقه توگه یو پیام لیږدوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

داړيکو /مفاهمی خواوی



(c) ketabton.com: The Digital Library

د مفاهمي اواړيکو ډ ولونه (۲)



(c) ketabton.com: The Digital Library

داړيکو چينلونه يا خواوي

د يوه سړي نه بل سړي ته (يا د ليږدونکي نه اخيستونکي ته) د معلوماتو د ليږدولو له پاره د اړيکو پراو د بيلا بيلو چينلونو له لارې سر ته رسيږي ٠ هغه چينلونه چې وګړي يې د مفاهمې په وخت په فکر کې ساتې خبرې کول او غوږ نيول دى ٠

بل چينل ليدل د لوستلو په خاطر (ديوه کتاب ، مکتوب ،يو سند او داسې نور څخه عبارت دى)

ليدنه د ننداري مفهوم هم رسوى (ديوه فلم ، خبرونو او حتى نورو وګړو ننداره)

د اړيکو ورستى خبره په يو بل چينل يا مزى پورى اړه پيدا کوى چې د غير لفظي اړيکو په نامه ياد يږي او دا ډول اړيکې د کتنې ، تقليد او اشارو اهميت تر ارزونې لاندى نيسى ٠

ټول ياد شوى چينلونه مهم ګڼل کيږي له دى امله چې د يوه پيام په ليږ دلو او اخيستلو کې سترګې ، غوږونه ، خوله او د بدن نور غړي په کار لو يږي ٠

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخیستونکي او د لیږ د ونکي موډ لونه



(c) ketabton.com: The Digital Library

دلیږدونکی او اخیستونکي موډ ل

په اخیستونکو او لیږدونکو موډلونکي بنستیزه عنا صر دادي :
لیږدونکی ، اخیستونکی پیغام او فید بک ; چي لیږدونکي غږي د خپل نظر ور پیغام د اړیکو د مزیو او چینلونو په مرسته اخیستونکي غږي ته ولیږدوی ۰ او اخیستونکی غږي پس له اخیستلو د پیغام نه د همغه چینل لیاري لیږدونکی غږي ته د پیغام ځواب ورکوي ۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلیږدلو او اخیستلو موډل

دلیږدولو او اخیستلو موډل دا په زړه پوری ټکي څرګند وی چې هر پیغام څلور اړخونه لری ۰ د پیغام لیږدو نکي او اخیستونکي با ید پوه شی چې د یو پیغا م د څلور اړخونو په هکله د هغوی شخصي تعبیرونه یو تر بله توپیر لری دا توپیر کیدای شی د لیدو وړ نا ړو ه تفا همونو او له هغو نه دراپیدا شوو ستونزو درامنځته کیدو سبب شی په یا د مو وی که پام مونه وی چې د مفاهمی د کوم ډول چینل نه کار اخلې ، نا سم تعبیرونه به تاسو د ستونزو سره مخامخ کړی ۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

ديوپيغام څلوراړخه (۲)



(c) ketabton.com: The Digital Library

دیوپیغام ځلور اړخه (۳)

دموخی اړخ

هر پیغام د موخی په اړه د معلوماتو لرونکي ده چې په آسانه توګه حقایق بیانوی ٠

داریکو اړخ

هر پیغام د لیږدونکي او اخیستونکي .تر منځ منا سبات څر ګندوی او دا چې
هغوی د یو بل په باب څه فکر کوی یعقیني ده چې د فکر ډول یې سره توپیر
لری ٠د اړیکو اړخ د الفاظو د غږ ، د آهنګ ، او غیر لفظي اشارو په مر سته
ښودل کیږی ٠ د پیغام اخیستونکي د پیغام ددی اړخ سره ډیر حساس وی ٠

(c) ketabton.com: The Digital Library

دیوپیغام څلور اړخه (٤)

دځان څرګندوني اړخ

يو پيغام نه يوازی د حقايقو په هکله معلومات لری بلکې پخپله د ليږ دونکي.په باب هم معلومات ور کوی : ځان څرګند ونه مقابل لوری ته د خپل ضمير ه څر ګندو ل دی ۰

د غوښتنو اړخونه :

وګړی ز يا تره وختونونه د خپلو ځانګړو مقصدونو د لاس ته راوړلو له پاره مفا همه کوی ، نو پيغام په داسي بڼه په نظر کې نيول کيږی چې په يو ډول نه ډول په مخا مخ لوری اغيزه وشنيدی ۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوريد ونكي څلور غوږه

د هغه د خبرو په وړاندی څه ډول احساس
اود فکرطرزاو عکس العمل ولرو ،

څه ډول د هغه د خبرو په ريښتيا
پوه شو



هغه څه ډول له موږ سره خبري کوی؟
او له چاسره غواړي خبري وکړي ؟

هغه څه ډول انسان دی ؟
او څه بڼه لري ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځلوراوريدونكي غوږونه

دامودل روښانه كوي چي اخيستونكي هم پيغام له ځلورو اړخونه دڅيړني لاندي نيسي.

دموخي اړخ:

څه ډول دهغه دخبرو ريښتياو باندي پوشم؟

داړيكو اړخ:

هغه څه ډول له ماسره خبري كوي اوله چاسره غواړي خبري وكړي ؟

خپل ځان ښووني اړخ:

دهغه دخبرو په برابركې څه احساس ،دفكرډول او عكس العمل ولرم ؟

دغوښتني اړخ:

هغه څه دول سړي دی او څه غواړي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تحلیل دبدلون په اړوند معلومات

د بدلون تحلیل چي TAپه نامه هم یادیږي د خیړنیز او روانشاسی تیوری څخه عبارت ده

چي په کال ۱۹۵۰کي د یوه روانشناس د (ایرک بیرون)په نامه مطرح شوي داسي چي دغه روانشناس ۳بیلا بیلي کچې د بدلون او تحلیل داسي شر ح کړي دي٠

(د موراو پلار کچه ،د لویانو کچه او د کوچني والي کچه)

چی دا ټول د انسانانو د کوچنی والی له تجار بو څخه سر چینه نیسی ٠

همدا رنګه هغه و څیړله چي بیلا بیل وګړی څرنګه خپل منځ کي متقابل اعمال لری او د بیلا بیلو شخصیتونو څرنګوالی څر نګه کولای شی د وګړو پر معاملاتو اغیزه واچوی ٠

ښاغلي بیرون له نظره د افهام او تفهیم ټول بهیر باندی پام لرل او ارزونه خورا ډیره ارزښت لري همدار نګه هغه پر دی عقیدی وچی د افهام او تفهیم په بهیر کي هرو مرو د مفاهمی دواړو اړخونو ته پاملرنه وشی نه یوازی یو اړخ ته .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تحلیل دبدلون په اړوند معلومات(۲)

له هغه نه ورسته بناغلي بیرون ټول بیلا بیل ټولنیز عکس العملونه یې توپیر کړه چې د هغه له نظره دغه عکس العملونه له یو سلسله متقابلو اعمالو څخه عبارت ده چې په هغه یې د لوبو نوم کیښود

شخصیت د ځرنګوالي موډل (د مورو پلار کچه –د ځواني کچه– د کوچني والي کچه)

د بدلون څیړنی د تیورۍ په نسبت په مجموعی توګه د شخصیت درې کچې شته چې له دغو کچو څخه وګړی په دوامداره توګه کار اخلی په دی ورستیو کې دغه موډولونه په څو نورو برخو لکه و مور او پلار توب د کچې او دکو چنیوالی د کچې په هکله پراختیا موندلی ده د یادولو وړ ده چی د شخصیت کچه په ټولو وګړو کې یو ډول نده خو د وګړی پر نسبت او د هغه د تیرو و تجاربو په بنسټ توپیر لري .

(c) ketabton.com: The Digital Library

معاملاتي متبادله تحليل (۳)

دمور اوپلار
کچه (والدین)

مور= با احتیاطه ،زړه سونده او بخښونکي
پلار = پابنده، اصولي ا و جدي

دبالغو غړو
کچه

هدفمنده ، تحليل کونکي ، معلومات ورکونکي

دماشومانو
کچه

عادي ماشوم/ نورمال = معمولي طبيعي ، چلند کونکی اوبازيګوشه
سرکشه اوسرغړونکي ماشوم = لجوج او خود سره
فرمان وړونکي ما شوم = آرامه ا و خبره اخيستونکي

(c) ketabton.com: The Digital Library

معاملاتي متبادله تحليل (٤)



دغړو کومه کچه يوبل سره مفاهمه کوي ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعاله اوریدل (۱)

فعاله اوریدل نه یوا.زی مهمه ده چې څه شی مو درک کړل (د یوه پیغام څلور ی خواوی)بلکې له دې نظره هم ارزښتناکه ده چې څر نګه مقابل لوری سړی ته وروښیی چې تا سو هر څه چې هغه واي درک کړي. دقیقه اوریدنه ستا سو سره مر سته کوی چې د باور او پو هیدو فضا منځته راوړی چې دا خپله د ګټوری او ښی مفاهمي او اړیکو په هکله یو بل لازمی شرط ګڼل کیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعاله اوريدل (۲)

ددقيقى اوريدنى بيلا بيلى لاري داسى دي :

ددقت سره مله اوريدنه

د عباراتو په دوهم ځلى بيان سره تشر يحى اوريدنه

فعاله اوريدنه او پا يله اخيستنه :

ستاسو دقت او پام مقابل لورى ته دا احساس وركوى چې تاسو پاملرنه دده خبرو ته اوښتى ده او په بل شى نه يې بو خت ٠ دا تكى د ښى مفاهمى او دوه اړخيزه درک بنسټ جوړوى ٠

ددى له پاره چې وليدل شى چې اخيستونكى سړى د ليږدونكي د پيغام اړخونه په عين بڼه درک كوي ، هغه بايد لاس ته راوړى پيغام تشريح كړى او پخپلو الفاظو يې بيان كړى ٠

((نو تاسو وايې چې ٠ ٠ ٠ ٠ ٠ ٠))

(c) ketabton.com: The Digital Library



فعاله اوریدل (۳)

((په بل عبارت ......))

لیږدونکي هم باید د اخیستونکي څخه یو لږ پو ښتني و پو ښتي څو پیغام دوهم ځلي وویل شی او ډاډ تر لاسه کړی چي اخیستونکی د پیغام ټول اړخونه په عین بڼه درک کړی وی .

((آیا تاسو وایي چي ......))

((تاسو منظور دادی ......))

په پاي کي فعا ل اور یدونکي نه یوازی خپل وخت ښی بلکي د اخیستونکي د مفکوری په هکله هم خپله شخصی پا یلی وړاندی کوی .

د بیلګي په توګه :

نوتاسو قصد نه لری چي ...... سر ته ور سوی ، بلکي تاسو غواړی چي ...... په با ب هڅه وکړی ......؟

د پاملرنی وړ : دا خبره د خپل عادت جز وګرځوی چي د پو ښتنی نه پرته ځواب مه ورکوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دفعاله اوريدني نبني (٤)

- اړوندو پوښتونو طرحه
- تعبير / اوتفسيرکونه
- توضيحات /دنظرلاندی کونه
- دويونکی نظرياتوته درناوی
- لنډيزول

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغوږ نيولو دري پوله

په غورسره غوږ نيونه

دهغو هجاګانو په کاروړنه چي دويونکي دپام وړ وي لکه – ام ،
ها ، هو (بلي)

دکلماتو له تعبير واوتفسيرسره يوځاي غوږ نيونه

دويونکي غږي دجملو بيا تکراروته اوددي پلټنه چي آيا هغه هم عين مطلب ثاري ياڅه

"آياتآسو مطلب مي په سمه توګه اخيستي دی چي ...."

فعاله اوريدنه او دهغه پايله اخستينه

آيا د اچي خبري او اتري تاسو په غورسره ثاري اوپه پايله کي تاسو کولي شي خپل ولاديز ددي په اړوند چي ثرنګه مختره ولاړشي ابراز کړي

پس نوموضوع دانه ده چي ....موږ ....

(c) ketabton.com: The Digital Library

(فیدبک)Feedback ځه ته ویل کیږی

فید بک د پیغام د اخیستونکي عکس العمل د پیغام د لیږدونکي په مقآ بل چې لیږ دونکی د پیغام د څر نګوالی په اړوند با خبروی

فید بک کیدای شی په په څلورو اړخونو (لکه د پیغام څلور اړخه) ولیږدول او واخیستل شی هغه ډول چې لیږدونکی او اخیستونکی با ید با وری شی چې دواړو خواو لیږدول شوی فید بک د پیغام د څلور اړخو پر بنسټ یو ډول لاس ته راوړی دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دفیدبک قاعده

- زماپه نظر) کلموپه کارورڼه
- برخلاف دمخامخ لوري مستقیمه مخاطبه ونه)
- مثبته غوښتنه (د منفي غوښتونکو پر خلاف)
- فوري فید بک(نه دا چي تول مسایل لومړی په خپل ذ هن کي وسپاری ورسته په عصبا نیت سره د مقابل لوري پر مخ یي وکاږی.
- دوه اړخیزه فید بک ورکونه (له لوړي نه کښتـه ته او کته نه لوړي ته)

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه ډول کولای شي په اغيز منه توګه (فيد بک) ورکړي

- يوازي هغه وخت فيد بک ورکړي چي مقابل لوری له تاسي نه غوَښتنه وکړي .
- زيار وباسي چي دامکان په صورت کي ډير لنډ فيدبک ورکړی .
- هڅه وکړی تر څو خپل فيد بک خپل اُدارک د ادارکو په توګه ، خپل ليدل د ليدني په توګه او خپل احساسات د احساساتو په توګه مخامخ لوري ته وړاندي کړی .
- داسي نه چي فيد بک مخامخ لوري ته ارزوني لاندي ونيسی . .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورسته د فيد بک له اوريدلو څخه څه بايد وکړو ؟

- هغه وخت ، چې مو له مقاّبل لوري نه فيد بک وموند په ډيري سره سينه ورته غوږ ونيسيی ا و هڅه مه کوی چې ژر تر ژره د خپل ځان دفاع لپاره توجيهات وړاندي کړی لکه دا چې ووايیې: ("هوکې ۰۰۰ ولي ...").
- د مقاّبل لوری نيوکې به خپله ژبه تکرار او داړتيا په صورت کي ډيري پوښتني وکړی . د ساری به توګه ("ښه ده ستا سو منظور داده چې...")
- له نورو وګړو نه د بيا ورکړي غوښتنه وکړی د بيلګي په توګه : (" غواړم پوه شم پدي اړوند څه فکر کوی ... ")
- د مقاّبل لوری به درك او ّبر داشت باندی شك او "ګمان مکوی . مثلآ ووایاست چی ::
- (" ستا سو اخيستنه له د موضوع نه غلطه ده په د خاطر ....")
- هغه وخت د فيد بک غوښتونکی شی چي د منلو تياري ولري

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پوَښتلو تخنيكونه

- محدوده اويا تړلي پو ښتني
- څرګنده اويا خلاصي پوښتني
- اړ ايستونكي پوښتني
- و ړانديزی پوښتني
- تاييدی يا باوری پوښتني
- تكراری پوښتني
- تمجيدی يا ستا ينيزه پوښتني
- حيرانونكي پوښتني
- مجازی پوښتني

(c) ketabton.com: The Digital Library

فصاحت او سم الفاظ دمفاهمي د اړیکو پراو رهبري کوی

د مفا همی او اړیکو د لاربنوني پړاو په دی معني نه ده چې یو سړی د خبرو ر یبنه په لاس کې ولری او ټولی خبری وکړي. ددی په عکس یو ښه مفاهمه کو ونکې پو هیږی چې څه با ید ووایې ، څه ډول یې ووایې ، څه وخت یې ووایې او څه وخت غلی کښیني ، څه وخت پو ښتنه وکړی او څه ډول پو ښتني مطر ح کړی

لاندی ټکې د کلیدی فکتور څخه بلل کیږي. چې تاسو به وتوانوی د مفاهمي پړاو په دوه اړخیزه او ګټوره توګه تنظیم او جوړ کړی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

فصاحت او سم الفاظ دمفاهمي
د اړيکو پراو رهبري کوی(۲)

لاندی ټکي د کليدی فکتور څخه بلل کيږي. چي تاسو به وتوانوی د مفاهمي پړاو په دوه اړخيزه او ګټوره توګه تنظيم او جوړ کړی .

- ښه پيل
- د ميني او يوالي فضا منځ ته راوړنه .
- دقيقه او فعاله اوريدل ٠

(c) ketabton.com: The Digital Library

فصاحت او سم الفاظ دمفاهمي
د اړيکو پراو رهبري کوی(۳)

- د پوښتنو مطرح کول ٠
- د سم درک لپاره د موضوع تفسيرول
- د سمو تشبيهاتو ټاکل او منا سب وخت کي د سمو مباحثو نه کار اخيستنه ٠
- دء " ما" او ء " چا " د کلمو په ځای د تاسو په کلمه باندی په تاکيد سره مخاطب ته زيا ته پاملرنه
- د بيلګي په توګه :
- " ستا سو ګټه په دی کي ده چي ......"
- " تاسو کولای شی وګوری ....."
- نه دا چي : " زه فکر کوم ...."
- " هر څوک کولای شي وی ګوری چي .....")
- داعتراض څارنه حتی مخکي له دی چي مطرح شی (د امکان په صورت کي)
- د تاکيدی کلمو نه کار اخيستنه نه داسی کلمو نه چي ستاسو نظريه کمزوری کړی د خبرو د پای ته رسيدو له پاره د منا سبو جملو موندنه ٠
- د فيد بک تبادله

(c) ketabton.com: The Digital Library

له حراکاتو سره د خبرو سمون او د هغو نه سمون

سمون

ستاسو له ليدنى نه خوَښ شوم
خلاصه ټنده، موسکا له مناسبو
حرکاتوسره

نه سمون

لا تر اوسه هم د اوضاع كنټرول
په لاس كي لرم!
په ټنده كي خولي ،مايوسه څيره

(c) ketabton.com: The Digital Library

شفاهي او غير شفاهي مفاهيم

شفاهي نيمگړي

- دويلو ډول /خبري
- ساه ايستل
- د غږجگوالى او ټيټوالى
- دويلو "گړندي توب
- ّبي مفهومه او خوشي خبري

د غير شفاهي مفاهيم

- ځان ښورونه او اشارى
- ټنده – او ځيره
- اودريدل ، داودريدلو ډول ، "ګام اخيستل
- دستروگو اړيکي
- ظاهرى بڼه
- د مقابل لوري واټن

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویل د اورید لو مفهوم نه افاده کوی



(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه اټکل شوي فيصدي چي په مفاهمه کي دتوافق باعث کيږي

بشپړه يوالی

%۵۰ خيره / سيما ،اشارات ، جامعی اوحرکات د خبرو په وخت کي

%۳۰ تکلم ، دغږلوړتيا او ټيټ والي

%۲۰ دموضوع او کلماتو محتوا.

(c) ketabton.com: The Digital Library

داشاري ژبه

- دوستانه خیره
- د خوښی ښودل
- د سترګو اړیکو ټینګول
- ډاډمنه خیره
- د واټن په پام کې نیول
- غوږ نیول

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مجسم جوړونې (بصرې جوړونې) په اړوند معلومات

مجسم جوړونونه عبارت ده د عکسونو (تصا وير) ، طرحې ، د يا ګرام تخنيک جوړونې او د پيغام د هر اړخيزه ليږدولو څخه مجسم جوړونې د ليدنو (بصرې) د بصرې تصوراتو له لارې د عينې او انتزاعې نظرياتو ګټهور ليږدول مجسم جوړونه ده (ډير شمير تاريخې بيلګې د نقاشې ، تصويرې ټکو ، يونا نې هندسي بڼې او شکلونه او داسې نور)

مجسم جوړونې په اوسنۍ وخت زمان کې په بيلا بيلو برخوکې لکه : سا ينس ، اعلاناتو او اشتها راتو زده ګړو او روزنې ، د موضوعاتو وړاندې کونې ، ډليزې غونډو او داسې نوروکې د پياده کيدو او تطبيق

ستر ه زمينه ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library

په سترګو د توضیح کولو معنا ګاني

(c) ketabton.com: The Digital Library

دیوه پرزنتیشن جوړښت /ترکیب

پیژندنه

- د غږي پیژ نه
- دګډونکونکو هڅونه
- د موضوع وړاندي کول
- دموخو توضیح
- جوړښت توضیح او ترکیب
- پوښتني او د زده کړي مواد

بنستیزه برخه

- روښانه جوړښت
- د کلیدي نطریاتو جوړښت
- دترتیب شوی جوړښت شا نیونه
- هر کله پام ، ا ویپیګیری

د پایلو اخیسنه

- د کلید ي نظریات بیا لیدنه
- لنډول ،جوړښت
- دپایلو ارزونه (فید بک)
- پوښتني / مباحثه
- داړیکو د ځاي په اړوند معلومات
- مننه / د خدای په اماني

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمرسته کونکو وسایلو په توګه
له اوریدونکواو لیدونکو توکو څخه کار اخیستل

دا ډول نه !

- ډیر زیاد متن
- د لوستلو په وخت کی عینکو ته اړتیا
- دموادو په جوړو لو کې له عکسونو نه کار اخیستنه
- دجوړ شویو موادله تصحیح کولو ورسته د هغه مخکې لیکني

د مغلقو او بیچیلو شویو جملاتو کار اخیستنه چې د موضوع درک تاسو ته ستونزمند کړي

له ّبیلا بیلو فارمتونو او رنګونه څخه کار اخیستنه

پرته له اغیزي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددفتر داداره کولو(دفترداری) بنسټیز مهارتونه

دریم فصل

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددفتردمهارت بنستيزه مهارتونه څه دي ؟

ددفتر دمديريت مهارتونه د فتر د داخلي توکو وسايلو سازمان ورکوني او د رسمي او منطقي اړيکو رامنځته کول د ي اداري د بهرنيو او کورنيو واحدونو په منځ وي چې د هغي په نتيجه کې يوه ډيره ښه کاري فضا په دفتر کې تا مينيږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددفتر داداره کولو(دفترداری) بنسټيز مهارتونه



(c) ketabton.com: The Digital Library

غنډه

غنډه څه ته ويل کيږي ؟

غنډه دمنجمنت له لحاظه يودول ټولنه يا رسمي ناستى ده چى داداري يوشمير کارکونکي دغنډي دريس دنظر لاندي سره را ټوليږي .

چه په هغه کي ديو لړ مسايلو (دچارو پر مختګ ، دمخو لاسته راوړنه او دستونزو داوارولو په هکله خبري او اتري سرته رسيږي . اودهغو درسيدلو په اړوند توافق کيږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

اغيزمني غونډي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغونډو د جوړولو دلایل

- د معلوماتو تبادله
- دیوالی پیدا ینبت
- بحثونه
- د نظر دیوالي منځ ته راتګ
- دپریکړو نیونه

! یا دونه : یوازي د معلوماتو ورکړه دغونډو د جوړولو دلیل نشي کیدلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

د غونډو مديريت

- ځوکۍ ليرى کيږدى !
- وخت او معمول نور منل شوى مقررات (د تيلفون چوپوا ، په نوبت خبري کول اوداسي نور) مراعات کړي
- يوازي د معلوماتو ورکړه دغونډو د جوړښت ښه دليل نشي کيداي
- دغونډي د رپورت لپاره ياداشت ونيسئ ا ومعلوماتي موضوعات، بحثونه، پريکړي ، او تصاميم په روښانه توګه يادداشت اونښه کړئ
- د نظر ور موخي ته پاملرنه وکړئ .
- دغونډي د لاربښوني سره سم عمل وکړي
- د لاس ته راوړلو او عمل په لور و خوزيږى

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددفتر جوړونه (سمبالول)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دفتر جوړونه او عمومي عناصر

ددوسیو مجموعه ، دمعلوماتو میز

لارښوونې اشاري دفرش بر مخ

دفتري نښې (د څانګې نوم، استو ګنه ، نومونه)

کاري چوکات (د کار ټاکلې ساعتونه ، د صلاحیت ورکړه ، پرځای کول)

د دفتر لوازم (میزاو څوکي ، کمپیوتر، روکونه ، داسنادو الماری ،دزینت ورکولو توکي ، هر غړی ته د پیژندني کارت ، تیلفون ، انترنت ، دغونډی میز اوداسی نور)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دفتر جوړونه او عمومي عناصر۲

دواردی او صادری مدارکو او اسنادو ته منظم سیستم
دکار پړاونه په یوه دفترکې (د ندی ، دندو ټاکل ، د کار ویش)
خپل ځان جوړونه ۰
معیارونه (لستونه ، مکتوبونه ، اسناد او مدارك ،چك لستونه ا و داسی نور)
استوګنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دځان سمبالول

- د یوه دفتر بنستېیزه جوړونه په لومړی ګام کې د ځان سمبالولو پوری اړه نیسي ۰
- د یوی درستی اوښي دندي سر ته رسوني لپاره یوه منظم جوړښت ته دیوه کاري بنسټ په توګه اړتیا شته ۰
- یو منظمه میز کولاي شي ستاسو د ناتمامه کارونو ښه لړي لید دیوی مودی په ترځ کې وروښیی.
- دخپل ځان جوړونه او پاک میز ستاسو د کار کیفیت ته زیاد والیۍ ور بخښي ځکه چي تاسي کولای شیۍ خپل کاري وخت پر مهمو مسایلو ولګوی ۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستاسو د دفتر میز



د پاڼوله منځه وړلو نه مخکې څو ضروري پوښتني



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستاسو د دفتر میز



ستاسو میز باید دې لاندې ځانګړتیاولرونکې وٰی :

- دکار لپاره تشه فضا باید حد اقل ۱,۵ متر مربع وی ۰
- دمیز سور باید د کمپیوترد مانیتور داوږدوالې پر اساس وي
- د کمبیوتر د مانیتور فا صله ستاسو له سترګو سره باید له۵۰تر ۶۰ سانتې متره پورې وی ۰
- دپښو ایښونو ځای کم تر کمه ۶۵سانتې متره جګوالی ۵۸سانتې متره سور او ۶۰سانتې متره ژوروالی ولرې
- ټول د اړتیا وړ لوازم او توکې چې ورته اړ یاستی ستاسو په واک کې دی وي ۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستاسود دفتر ميز (۳)



(c) ketabton.com: The Digital Library

داسنادواو دوسيو ترلو سيستم (۱)

د دوسيه ترلو پلان او جوړونه دوه واحدي قاعدي لري چي ورښيي څه ډول مکاتيب تر تيب او دوسيه بندي شي ٠

- هره دوسيه دانيې بايد يو ثابت ځاى ولرى .
- هر ه دوسيه دانيې بايد په هغه ډول په نښه شي چي د دفتربيرون خلکو ته هم ستونزه پيدا نکړي
- د اسناد ود د وسيه بنديې سيستم بايد منظم وى
- داړتيا وړ اسناد بايد په آسانه او له لټولو پرته د اسناد و د ثبت له دوسيو نه پيدا شى

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستاسو د اسناد واو د دوسیوترلو سیستم (۲)

لطفا دا ځانګه " د فعاله آرشیف " په نامه یاده کړی

- هردول سیستم چی تاسوېي غواړۍ وتاکی .
- دوسیه بندی په لوړ کیفیت سره اما له لږ لګښت سره
- سمه جوړونه (ځانګړي کلمات / د دوسیه ترلو پلان / د الفبا یا اعدادو په ترتیب سره)
- دوخت ذیرمه کونه
- د اسنادو لوستل یا له منځه وړل .
- راګر ځید ل ا و کنټرول .

خپل داسنادو ددوسیه ترلو سیستم هره ورځ جوړ کړی .

ستاسو د اسناد و د دوسيو تړلو سيستم (۳)

درى سّبده داسناد ولپاره په لاندى ډول په نامه کړى ۰ د وارده اسنادو سبد ، دکار لاندي اسنادو سبدۀ او د صادري اسنادو سبد ۰

يادداشتونه او مکاتيب چه لاتر اوسه لوستل شوى نوى د واردى په سبد کي کيکږدى که کوم سند له د سبد نه اخلى په هغه صورت کي فعاليت ته پيل کوى وارده اسناد نظر په موضوع او لمړي توب وتړا کى ۰

هغه اسناد چى غواړى پري کار وکړى او يا هم کارته دوام ور کړى د کار په سبد کي کيښږ دى ځکه تر اوسه توانيدلي نياست چي بشپړ يې کړى ۰

پاملرنه :له د ي سبد نه هغه کارونه چي غواړى شاته وغورزوى او وځنډول شي کار مه اخلى ځان ډاډه کړى چي اسناد مو په سبد کي نه دى ډ يرى شوى ۰

د بشپړ شويو اسنادو لپاره د صاد ري سبد نه کار واخلى دا سبد د ورځي خوځله خالي کړى ۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

اغیزمنه مکاتبه –دلیږدولو وړ

- هڅه وکړی لنډ ه او راټوله لیکنه وکړی ستاسو په دی کار د مطلب اخیستونکې د هوساینې احساس کوي ..
- فورآځواب ورکړی : لنډ او مختصر ځواب ورکړی او مربوطه سند باندې امضا او نیټې هم ولیکی، هیرمونشي د سند اصل مقابل لور ته او کاپي ستاسو سره پاتي کیږي .
- خپل مکاتیب له لنډ و پښتنو اوځوابونو سره جوړ کړی. لکه مختصری فورمی چی د ځواب په خاطر په مختصر ډول جوړیږي اود ځواب د (هو) او (نه) په موندلو سره یوائي له تشو خانو نه کار اخیستل کیږي .

- لنډ مکاتیب : دلنډ او منل شویو لیکونو لپاره له نمونو نه کار واخلی.
- انفرادي مکاتیب : مخکی د مکتوب له جوړولو نه زیار وباسی، مهم او عمده مسایل یاداشت کړئ، ویې څیری چې آیا تیلفون کول به ګټور وي یا د مکتوب لیږ د ول .

په یاد ولری، ځني مسایل باید په لیکلي تو ګه ځواب ورکړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسناد و د ساتنې سیستم

- تل خپل اسناد او مدارک د ځانګړیو ،مارکونو په مرسته نښه کړی تر څو پوه شي د هغو په منځ کې څه شته دی ۰
- هغه اسناد او مدارك چې دالفبا او یا دحروف په اعداد ترتیب شوی وی تشریح ته اړتیا لري تر څو تاسو او ستاسو ملګرو ته د پو هیدلو وړ وي ۰.

د اسناد ساتنه

- هغه اسناد ا و مدارك چې هرکله ورته اړتیا لری باید ستاسو په لاس کی وي تاسی کولای شی په روک یا الماری کې ځاي پر ځاي کړی ۰
- هغه اسناد او دوسی چې اړتیا ورته نلری کولاي شی دورځني اړتیا وړ اسنادو شاته ئې ځاي پر ځاي کړی ۰
- هغه اسناد چې به اوږد مهاله وخت کې نه په کار کیږي یوي الماری کې چې قفل ولري وساتی اويا هم له دفتره بیرون يې وساتی ۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

یادداشتونه او اوراق

- د نظر یاتو لیکنه یو بله اغیزمنه لاره ده چي تاسي سره مرسته کوي تر څوپوري سپارل شوي چاري ثبت او د هغه به مخ عمل وکړۍ٠.
- ولی پام مو وي چي د کوچنیو پاڼو پر مخ یاداشت مه نیسۍ او یاهم دا کوچنۍ پاڼي د تختي او دیوال پر مخ مه زړوی ٠ که پاڼي وړي وړي وي ډیر ژر له یاداشتونو څخه ډک کیږي او تاسي ورته پام نکوی نو په د صورت کي هغه پاڼي خپل ارزښت له لاسه ورکوي ٠او موضوع ستاسو له فکره وځي ٠

د حل لاره : سپارل شوي دندی دتمام شویو کارونو په لست کي ولیکۍ یوه پاڼه سپین کاغذ کولاي شي تقریبا ٣٠ وړو توتو ځاي ونیسي ٠

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمدارکواو اسنادو وړاندي کول

هر کله په خپلو یاددداشتونو کې نیته ولیکۍ (مثلا تیلفوني خبرې، دغونډو گزارش اوداسې نور)

خپل یاداشتونه د مضمون پر بنسټ سره راټول کړی •

خپل یاداشتونه په منطقي توګه دوسیه بندي او ثبت کړی .

هر کله ستاسو په یاداشتونو کېٔ کوم مکلفیت وي چي سر ته ورسیږي په هغه صورت کي هغه کارونه چي باید سرته ورسیږي دا هم پکې ځاي کړی •

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکمپیوترپه مرسته د اسنادو او مدارکو جوړول



- د کمپیوتر حافظه ستاسو د اسنادو او مدارکو برښنايي (الکترونیکی ذیرمه ده چې کیدای شی هغه تاسو داداری حافظهٔ ونومو و .
- داوسنیی ترل شوی پلان په اساس خپل جوړشوي او دارتیا وړ اسناد و لپاره د کمپیوتر په حافظه یوه دایر کتري یا دد وسیو ایښوني ځای منځ ته راوړی
- که له کوم همکار یا د معاملی لوری سره ډیره مکاتبه لری پس نو د همغه غړي په نامه یو جداګانه فایل جوړ کړی .
- که یوه دایرکتری له حده زیاته پراخه او بي نظمه شي په هغه صورت کي ټول اسناد او فایلونه انتخاب او یوه بله نوي دایرکتري سره جوړ کړی.
- خپل ځان ډاډه کړی چي یوه کاپي د اسناد و (مثلا په سی ډی یا په ډی وی ډی) کي خپل ځان سره ولری .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دیوي کاري ورځي په پایله کې

- دسرته رسونو کارونو لست مو چک کړی اود یوي راتلونکي کاري ورځي په خاطریې ارزیاپي کړی هغه ډول چي خپل کارونه د لمړي توب په بنسټ جوړ او سرته ورسوی ․
- هغه اسناد او مدارک چي نور ورته اړتیا نلری آرشیف یې کړی او یا هم له منځه یو سی ․
- هغه کارونه چي د ورځي په اوږدو کي ستا سو پر میز کوټ او انبار شوي دي یو وار مرور او له نظره تیر کړی ․
- که له کاری څو ورځو نه ورسته ولیدل شی چي څوکاره ستاسو پر میز انبار شوي دي په هغه صورت کي تم شی داړتیا وړ وخت موهغه ته وټاکی او ټول شیان له سره پاک او منظم کړی ․

(c) ketabton.com: The Digital Library

داغيزمنو برښناليکو ليږد ول

- برښينا ليک مو په يو ټاکلي او معين وخت ديوی ورځې په ترځ کې جوړ او ترتيب کړی .
- د راغلو پيغامونو له بکس نه د پيغام ساتلو د بکس په توګه کټه مه اخلی .
- خپل راغلي پيغامونه يا له منځ يوسی او يا هم په نوم ايښودل شويو بکسونو کي وساتی.
- هغه معلوماتي اسناد چي د څو راتلونکو ورځو په ترخ کي ورته اړتيا لری په يوه بکس کي موقتي ځاي په ځاي کړی او د ۵ ورځو له تيريد و ورسته يي له منځه يو سی .
- ټاکل شوي پستي لستونه ځان ته منځ ته راوړی – ځکه چي هر معلومات يا فايل يو شخص يا اداري پوري مربوط وي نه ټولو پوري . .
- هر کله چي چاته ضميمي پيغام استوی اخيستونکي کس ته روښانه کړی چي له کومي پاڼي نه چي مو ليږدولي ده کافي او ارزښتناکه معلومات لاسته راوړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

له کتونکو سره اغيزمن سلوک

له ډېر وخت نيونکو
غړو سره د هغوي په
خپل دفتر کي
ملاقات وکړې

دغونډو راتلولو او
د غونډو محتوا

دغونډو د نيتي
ټاکل له معينو
غړو سره

دموخي، موضوع
اودملاقات دوخت
ټاکل

دملاقات لپاره د يوه
منظم پلان جوړونه

له ډېر وخت نيونکو
غړو سره په
ودريدلوتوګه ملاقات
وکړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

له کتو نکو سره اغیزمن سلوک

- دغوندي پیل کي دغونډي د پای وخت هم اعلان کړی (مثلاً : خوشحاله یم چي یو ساعت وخت لرو تر څو د .... په هکله خبري وکړو .)
- ورسته لدي چي دغونډي دریمه برخه تیره شوه دغونډي پاتي وخت هم اعلان کړی . (مثلا : ۲۰ دقیقه نور وخت لرو ...)
- په پاي کي د غوندي مهم او فشرده مسایل یو وار بیا وخیړی او په لنډه توګه تکرار کړی او غونډه مو پاي ته ورسوی٠
- نویموضوع او د غونډي د اجندا نه بهربحث او خبري مکوی او بهر له اجندا نه پوښتنو ته هم ځواب مه ورکوی او که جیري اړتیا وه د یوي نوي غوندي جوړیدو ته چي نوي مسایل په کي وخیړل شي توافق وکړی تر څو دا نوي موضوع هم حل شي ٠
- دغونډي د پاي ته ریسدو لپاره غیري لفظي اشاري داسنادو له ټولو لو ، د دریدلو لپاره تیاری ، ساعت ته کتنه او داسي نور څخه عبارت کار واخلی ٠

پاملرنه وکړی: په ډیري درناوی سره مننه وکړی او په ډیري میني سره ګډون کونکو ته د غونډي د ختم اعلان وکړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

درسمي اړيکو په اړوند ۷مهم ټکي

- روښانول او وضاحت
- اکمال یا پوره کید ل
- لنډ ول
- درستي
- واقعیت یا ریښتین والیۍ
- ځیرنه / پاملرنه
- تواضع / ادب او شکسته نفسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دبیلا بیلو فرهنګونو درک او پیژند نه

دفرهنګ تعریف:

فرهنګ دې یوي ټولني له مادي او معنوي ارزښتونو څخه عبارت ده .
ولي د نورو فر هنګونو په اړوند معلومات لاسته راوړو ؟
دبیلا بیلو فر هنګونو درلودنکو غړو سره د تماس له کبله احتمالي سهوي او خطا ګاني :

– ژبه
– فر هنګي ارزښتونه
– فرضیات او تصورات

(c) ketabton.com: The Digital Library

څرنګه کولای شو خپل منځي فر هنګ ځواکمن کړو ؟

دښه پوهید و او اړیکو په اړوند د بیلا بیلو فرهنګونو درلود نکو غړو سره شپږ مهم ټکي په پام کي ونیسی :

- د عامیانه ژبي او اصطلاحاتو له کار اخیستني نه ډه ډه وکړی ٠
- فعاله او ښه ء اوریدونکی و اوسیږی ٠
- دخپل دغږ لحن او تلفظ په برخه کي دقت وکړی .
- د بل لوري او خپل ځان حراکاتو او سکناتو ته دیره پاملرنه ولری .
- دخبرو مهم ټکي په لنډه توګه تکرار کړی .
- دامکان په صورت کي مهم ټکي د ستروکو موزونو او منا سبو حر کاتو په مرسته ادا کړی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ليکلومهارت په دفتر کې

ولې مهارتونه په ليکلو يا تحرير کې مهم دي ؟

- امکان لري ستاسو د مکاتيبو او اسنادو لوستونکي د پوهي او آګاهۍ په بيلا بيلو کچو کې ځای ولری .
- وګړي معمولاً ددندي په وخت کې لنډ ی ليکني او ريپورټ لولي
- ممکن ده ستاسو اسناد او مکاتيب بيلا بيلو وګړو لاسته ورشي چي په راتلونکي کي
- دقانوني سند په حيث ورځني کار واخلي او ګټه ورځني پورته کړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

څرنګه کولای شي خپلې لیکنې ساده کړی ؟

- باید پوه شی چې ولې لیکې ·
- باید خپله مفکوره ځانګړې او روښانه کړی ·
- باید لیکل شوي متنونه ترتیب او جوړ کړی او یو ځل بیا هغه ته بڼه ورکړې
- باید پوه شی چې چا ته یې لیکې.
- باید خپل د دفتر منل شوی فارمونه او مکتوبونه وتاکې ·
- دمکاتیبو مخکې لیکنې جوړ ي او بیا یې تصحیح کړی ·
- د امکان تر حده خپل اسناد د اجزاو په ترتیب جوړ کړی ·

(c) ketabton.com: The Digital Library

څرنګه کولای شی خپلي رسمي ليکني ساده کړی ؟

- په بنسټيزه او عمده مسايلو تمرکز وکړی او له ګوښي تللو نه ډډه وکړی .
- له روښانه افعالو نه کار واخلی نه له ګنګو او پيچلو افعالو نه.
- دليکنو لحن ته مو پاملرنه وکړی .
- خپل اسناد مو په دوامداره توګه جوړ او منظم کړی .
- خپل مکاتيب مو د ژبپوهني ، نښي ايښونو، او املاي غلطي ګانو له نظره تصحيح کړی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

درپوټ لیکنه

رپوټ لیکنه څه ده ؟

- درپوټونو ځانګړ تیاوي
- درپوټ لپاره دپلان طرحه کیدل
- درپوټ جوړښت

(c) ketabton.com: The Digital Library

دراپوټ لیکنه

راپو ټ لیکنه د ثارلو یوه برخه ده او ثارل د پروژي له مهمو ثانگو نه شمیرل کیږي څکه نو د یوي پروژي له بهیر نه لید نه وکوی.
دپروژي د بهیر په هکله باید له پریکړو نیونکو غړو او د پروژي له برخه لرونکو سره خبري وشي چي په همدي ملحوظ رپوټ لیکلْ کیږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

راپوټ لیکنه

درپوټ لیکلو ځانګړتیاوی

- دریښتیا ویل
- دمعلومات ورکړه
- له پر مختګ نه د مسولینو خبرول
- داړوندو غړو پام راړول

(c) ketabton.com: The Digital Library

راپوټ لیکنه

د راپوټ طرحه

- مقابل لورئ
- د راپور موخه
- ورکړل شوی مسولیتونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

رپوټ ليکل

د رپوټ جوړښت

- د رپوټ سر ليک
- دليکونکي بشپړ نوم له کاري موقف سره
- د رپوټ موضوع
- عمده او اساسي ټکي
- پراختياوي
- پرمختګ (د کار بهير)
- سپا رښتني
- تړلي (ضمايم يا پيوست)

(c) ketabton.com: The Digital Library

عامه اړیکي

پیژندل (تعریف) :

عامه اړیکي د یوی اداري او مراجعینو تر منځ د پوهې او فن په مرسته داړیکو پیدا کیدل دی ۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

دعامه اړيکو بيلا بيلي ساحي

- د بازار موند لو په خاطر عامه اړيکي ٠
- اړيکي په سياسي چارو کې ٠
- ددولتي او غيري دولتي ادارو په کچې عامه اړيکې (د پوهنتونونو ، ښوونځيو ،روغتونونو، دټولنيوزبشري خد متونو په شمول ٠

(c) ketabton.com: The Digital Library

دعامه اړيکو په اړوند بيلا بيل تخنيکونه

دعامه اړيکو متخصصين له بيلا بيلو تخنيکونو نه کار اخلي .
د بيلګي په توګه:

– دنظر وړ ډلي پيژند نه او د اغيزو لاندي دهغو راوړنه ٠
– مطبوعاتي کنفرانسونه
– مطبوعاتي پاڼي
– مطبوعاتي او بريښنا ليکني خپرونۍ
– د فشار ډلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

دعامه اړیکو بیلا بیل تخنیکونه

خج دفشار ډلي
موضوع گانو ته بڼه ورکول ، د هغو مهم ښودل او داسې نور تخنیکونه
لکه :
(رادیويي ا وتلویزیوني مرکې، دکتابونو نشر او نور نشرات)

(c) ketabton.com: The Digital Library

تړون(قرار داد)

دتړون تعریف :

تړون هغه تحریري موافقتنامه ده چي د د و یا څوکسانو په منځ کي لاسلیک کیږي او د سر غړوني په صورت کي دیوه خوا موضوع محکمي او عدالت ته وړاندي کیداي شي ۰ قرار داد د یو لړ کړونو د اجرا او د سر غړونو لپاره د اوس او راتلونکي کي لاسلیک کیږي ۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

د قرارداد عناصراوخواوي

- د دواړو خواو تر منځ يوالی (وړانديز او منل)
- ملاحظات اوکتني
- مخامخ لوري تر منځ د لاس ليک په خاطر اراده / او عزم نيت لرل ۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

د قرارداد اجزاوي

دتړون اجزاوي دغه مسايل له ځانه سره لري :

- دتړون بڼه (شفاهي او تحريري)
- قرار داد د دواړو خواو ظرفيت ٠
- د نظر يوالی ٠
- مشروعيت ٠
- د غوښتني حق ، دورانيو (خساراتو)جبرانول ٠
- د دواړو خواو مکلفيتونه ٠

(c) ketabton.com: The Digital Library

د قرارداد شرطونه

- د داورو خواو پیژندنه یا هویت
- د تړون د موضوع ځانګړتیا ·
- ورکړه او د هغه ټاکلې وخت ·
- د خد ماتو ځانګړتیاوی (وخت، زمان او مسول وګړي)
- پټوالی (محرمیت)
- د تړون له منځه وړل د جانبینو له خوا
- تړون یا قرار داد د کوم هیواد تر قوانینو لاندي
- دقرارداد یاتړون موده

(c) ketabton.com: The Digital Library

ثلورم فصل

مشری (رهبری)

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مشر او مشرى اصطلاح

مشر او مشرۍ اصطلاح د بيلا بيلو ژبو په فرهنگ كې په متفاوته توگه په كاروړل كيږی ۰
د انگليسى په ژبه كې هغه ته ليډر (Leader) او ليډر شيپ (LEADEDERSHIP)واي او په فرانسوي ژبه كي مدير او مديريت اوكله هم فرمان وركونكي او فرمان وركونه يې بولي . دفارسي ژبي په اصطلاح كې په بيشميره توگه ياد شوي دي چې د بيلگې په توگه وړاندي كيږی
رهبر ، رهبري ، مدير ، مديريت ، ريس ، رياست ، مسول او مسولين اوداسي نور دا ټول القاب هغه چاته وركول كيږي چې د تشكيلاتي هرم په سر كې ځاي لري او ديوئ ډلي په لمړئ سركې وئ د ډلو ادارو د مشرۍ مسوليت په غاړه ولري . په كاروړل كيږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمشرى تعريف (۱)

دمشرۍ په هکله بيلا بيل تعريفونه موجود دي چې غوره تعريفونه يې دادي :

مشري عبارت ده د ډلو پر منځ کې نفوذ کول تر څووکولاۍ شی د هغوي په فعاليتونو باندي اغيزي ولري اود ی ګډو موخو د پياده کيدو لپاره يې يو لورته رهنمايي کړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمشری تعریف (۲)

نفوذ لرل او اغیزی ایښودنی د مشرۍ یو نه بیلودنکې جز دی څه مشری د اداری په چوکاټ کې مطرحه شی یا بهر له هغی نه په دی اساس مشری کول یوازی د پرمختګ په مفهوم نه بلل کیږی بلکه نفوذ یعنی اغیزی د نورو پر سر درلودنه له ځانه سره لري اود ځواک درلودنه د نورو د لار ښونی لپاره ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسمي او غيري رسمي مشري

مشري كولاى شي رسمي اړخ ولري لكه –مشري په اكثره ډلو او نهادونو او معا ملو كې او هم كولاى شي غير رسمي دوستانه اړخ ولري ٠
مشري كيداي شي ديو مشر يا مشرانو د ډلي له خوا سرته ورسيږى
اما په هغه صورت كي چي پيروان له اندازي وتلي درناوى او احترام يعني په عنعوي ډول خپل مشراو لاربنود ته ولري مطا بقت كوي ٠

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مشرۍ په اړوند د نبي كريم(ص) حديث

د اسلام د مقدس دين له نظره د مشرۍ په اړوند د نبي كريم مبارک حديث چې مسلمانانو ته يي داسي فرمايلي

هر يو له تاسو څخه په حيث دی راعي (شپون) ياست او هر يو مو د رعيت (لاس لاندي) ته مسول ياستې .

له دی مبارک حديث څخه داسي استنباط کيږی چې ټول مسلمانان په يو ډول نه په يو ډول سره په رسمی يا شخصی چارو کې د مشر يا ليډر ونډه په غاړه لری .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ورته والی او توپیر دمدیریت او مشری په منځ کې وجوه

که څه هم دا دواړه اصطلاح ګاني ډیري نیږدی اړیکې له یو بل سره لري . خو معمولاً مدیریت د چارو سمبالولو په مفهوم او مشري (رهبري) د وګړو د سمبالولو په مفهوم په کار وړل کیږی .

مشري کیدای شی بهر د اداري تشکیل د مراتبو لری کي ملاحظه شی ولي مدیریت معمولاً په اداره کي مطرحه کیږی ډیره جالبه موضوع په دی ټکي کي ده چې ډیر مشران مدیران ندی .

یو مشر ممکن د ځواک او نفوذ خاوند وی ولي د رسمی څوکی درلودنکی نه وی ممکن د یوی مذهبی ، قومی ، قبیلوی ، مشر وی له بلي خوا په اداره کي ډیر مدیرا ن د مشری ونډه سرته رسوی یعنی د مشری ونډه هغه ته سپارل شوی وی چې یوازی د هغو د مدیریت یوه مهمه برخه ده .

له بل پلوه په اداره کي اکثرآ مدیران ، د مشری یا رهبری ونډه هم په غاړه لری په دی معنی چې

د مشری ورکړل شوی دندی هغو ته یوازی د مدیریت له مهمو دندو څخه بلل کیږی

(c) ketabton.com: The Digital Library

مديريت ا و مشرى

مديريت په عام مفهوم مشرى له ځانه سره لري
ولې په خاص مفهوم سره مشرى نه احتوا کوي

مديريت ا ورهبرى لکه د يوى سکي دوه مخه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مشر تابه لپاره غوره ځواکمندی

خپل ځان ته لار ښوونه اومشری کونه

د غرو ، ډلو ، او اداري دمشرۍ او رهبری ځواک ولرۍ

ديوي اداری په کچه دنورو مشر توب

(c) ketabton.com: The Digital Library

دیوه مشر ونډه (نقش)

- لار ښوونه کول
- د خوزښت منځئته راوړل
- د لیری لید منځئته راوړنه (لیدنه)
- د پریکړو نیونه
- دستونزو اوارول
- هڅونه او ساتنه
- دوګړو اداره کول او جوړول
- ځاني جوړښت
- د ډلو جوړونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دیوه مدیر ونډه

- دچارو سمبالول لکه اسناد او مدارک ،د پروژو احصائی (شمیر)،سر چیني ،وخت ....
- پلان ا و بودجه جوړول
- دغړو پکار اچول
- جوړونه،یوالی ا و ددندو ورکړه
- پراختیا و وده
- په چارو راټولیدل او د ستونزو اوارول
- څارل ، خبرول ، او راپوټ ورکونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مشرى يا رهبرى طريقي (۱)

اساسآ ديوه مدير رهبري اړه نيسى دكار كونكو په نسبت د هغه نظرليد ته په بل عبارت هغه عمده او غوره عوامل چي مشري تر اغيزو لاندى راولي د يوه مدير نظرليد دخپلي وندى او د كاركونكو وندى په نسبت ده .

د مشرۍ د لاري درسته او سمه په كار وړنه او ناكنه چي د بهرنۍ انگيزى سره نيول كيږى كيداي شى د ادارى د موخو لاسته راوړنو سره پيښى شى . ديوه مدير د نا برابرى او نا هماهنگى انگيزو په درلودلو سره دادارى موخى له ستونزو سره مخامخ كيږى . او ممكنه ده كار كونكى د خوا بدۍ ، بى علاقگۍ او نا راضا يتى احساس وكړى.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مشرۍ یا رهبرۍ طریقي (۳)

هغو څېړونو (تحقیقاتو) کې چې سرته رسیدلي کار کوونکي زیاتره د انسان غوښتونکو رهبرانو غوښتونکي دی او هغه رهبران چې دي اداري یا (سازمان) غوښتونکي دي د کار کوونکو له کار شکنۍ او بی علاقه ګۍ سره مخامخ کیږی په بله نظر یه کي دمشرۍ یا رهبرۍ سیستمونو طریقي په څلور ډوله ویشلی شوی دی . او هر ډول ته یي د سیستم نوم ورکړی دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمدیریت لاری



(c) ketabton.com: The Digital Library

آمرانه طریقی

په دی طریقی کي د اداری تولی پریکړی د تشکیل د هرم په سر کي نیول کیږی
چي په بشپړه توګه آمرانه او اداري غوښتونکي دی او پریکړی د مراتبو د لړی
له لاری له پورته نه ښکته ته لیږدول کیږی مشر خپل لاس لاندی وګړو باندی کم
اعتبار او باور کوی . د مشر (رهبر) اړیکي عموماَ د ویری ، تهدید ، پړ کولو او
ملامت کولو پربنسټ ولاړی وی . اړیکي له پورته نه ښکته ته عمودی او یو
اړخیزه وی .

دعالي مدیریت په کچه کي جدی کنټرول استوګ معمولاَپه دی شرایطو کی یو
غیر رسمی اداره رامنځ ته کیږی چي د اداری له موخو سره مخالفت کوی دغه
غیر ی رسمی اداره په کلي توګه د اداری له موخو سره مخالفه شمیر ل کیږی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دآمرانه مشرى ګټې(مزاياوي)

پريکړې ژر تر ژره نيول کيږی ځکه د پريکړو نيونو مرجع خپله مشر (رهبر)
دی .

دغه طريقه د اداری په ښکته کچه مناسبه ده ځکه د هغه کار کوونکي له کمې پوهې او دانش څخه برخمند دی د لوړ مقام د ډار او ويری نه پرته خپله دنده په سمه توګه سرته نه رسوی .

له دغی طريقی نه په اضطراری حالت کار اخيستل کيږی داضطراری او ستراتيژيکو پريکړو په نيونو کي دغه طريقه مناسبه او ښه ده . په آمرانه کړنلاری کي حاکميت عام تام په لاس لاندی وګړو باندی حاکمه وی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د آمرانه مشرۍ محدویتونه

د لاس لاندو غړو اړیکې له له خپل آمر یا مشر سره په دښمنۍ او خصومت باندې بدلیږي او کار کونکو مینه او علاقه له کار سره مخ په کمیدووي .

لاس لاندې کار کونکې له کار څخه اوریږه خالي کوي او کار هم وکړي مسوولیت په غاړه نه اخلي

له دې چې لاس لاندې کار کونکي په پریکړونیونو کې ګډون نشي کولای او د هغو استعداد او توانایي نه کار نه اخیستل کیږي په همدې خاطر د انسانې سر چینو پراختیا او وده له کندې او بطې والي سره مخامخ کیږي

په لنډه مهاله موده کې شاید مشر کامیا به وي ولې که دا بهیر اوږد مهاله مودې ته تال شي نو ډیرې نا خوالې او ستونزې به له ځانه سره ولري .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګډونيزی مشری طريقی

په دی طريقی او لاری کې د مشر اعتماد او باور په لاس لاندو کار کونکو باندی له حده زياد وی له مينې او تزاکت نه ډکې اړيکې د مشر او لاس لاندو کار کونکو تر منځه په ټولو چارو کې ټينګې وی

د مشری په دی سبک کې پريکړی نيونی په بشپړه توکه ګډونيزی وی ، رسمي او غيری رسمي اداری تقريپاً يو بل سره يو ځای کيږی ، په دی اساس ټول ځواک د يوی واحدی موخی د پياده کيدو لپاره په کار ورل کيږی . اړيکې په عمودی توګه موجودی وی او د پريکړو نيونو ځواک په پراخه پيمانه په ټولی اداری کې هواريږی د کنټرول او څارنی په پړاو کې داداری ټولې کچې ګډون کوی په دی طريقی کې مشر خپل د کار کونکو د پوهی د سطح د لوړوالي او د هغوی د ټولنيزو او حقوقی ارزښتونو غوښتونکې وی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ګډونيزې (مشارکتي)مشرۍ ګټې او ښيګنې

مشر يا رهبر خپل کار کونکي تړون او تعهد ته رابولي ، له دې چي د پريکړو نيونو په وخت کې له کار کونکو سره صلاح او مشوره کيږي نو کار کونکي سخت علاقمند وي تر څو پورې دغه پريکړې ونيول شي او د سرته رسونو مر حلي ته ورسيږې پياده شي ، د مشرۍ په دې طريقې کې د کار کونکو له استعداد او توانايي څخه کار اخيستل کيږي او پريکړو نيونو کې ډيره ونډه لاس لاندو کار کونکو ته سپارل کيږي ، لاس لاندې کار کونکي ډير هڅول کيږي (تشويق) د هغو روحيه لوړه ځي له دندو سره د هغو مينه او محبت ورځ په ورځ زياتيږي چي په پايله کې ډيرې ښې انساني اړيکې رامنځته کيږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ګډونيزی مشرۍ محدويتونه

له دی چې د پريکړو په نيونو کې زياتره کار کوونکو ګډون کوی نو د پريکړو نيونو پړاو ډير په کندۍ سره مخ ته ځي او يا هم شايد د پريکړو نيونه له کار کونکو سره د مشر د لياقت او کار پوهۍ نه درلودنه نوروته عنوان شی دغه طريقه که اوږد مهاله پړاو ته پا تی شی د کار کونکو کنټرول څارنه ضعيفه کوی او ممکنه د کنټرول نشتوالۍ څر ګند کړی .

